د سمندر دعا (Sea Prayer) ناول...................................................................... ۲۴۷

**د ۱۳۹۶هـ. ش کال د تلې (ميزان) مياشت**

"د پښتو ژبې، ادب او کلتور فکري او تخليقي يون"................................................... ۲۴۸
د نورستاني ژبې قاموس وليکل شو...................................................................... ۲۴۸

د ملي ارشیف خطي نسخې او لرغوني اسناد ننداريې ته وړاندې شول........................... ۲۵۰
په لوگر کې "د مستري چیغه" د شعري ټولگې مخکتنه وشوه ..................................... ۲۵۰
د تاجکستان په ملي پوهنتون کې پښتو څانگه جوړه شوه ......................................... ۲۵۱
"سل زره شاعران د نړۍ د بدلون لپاره"........................................................... ۲۵۱
په میرویس خان هوتک فلم جوړېږي.................................................................. ۲۵۱
په ادبیاتو کې د نوبل جایزه "کازو ایشیگورو" واخیسته ......................................... ۲۵۲
د "شعرستان" اثر مخکتنه وشوه ........................................................................ ۲۵۳
"له امو تر اباسینه یوه لاره، یو فکر" په نوم علمي غونډه جوړه شوه ........................ ۲۵۳
په میدان وردگو کې یو لرغونی اثر وموندل شو ..................................................... ۲۵۴
په امریکا کې د افغانستان سفارت د مولانا بلخي یادغونډه وکړه................................. ۲۵۴
د "اسلامي فرهنگ په پراختیا کې د تصوف ونډه" نړیوال سیمینار جوړ شو ..................... ۲۵۵
په کابل کې وتلي لیکوال سعدالله جان برق ته د درناوي غونډه وشوه ........................... ۲۵۶
"خوشال بابا فکري بهیر" دوهمه سلیزه بشپړه کړه .................................................. ۲۵۷
د استاد سعدالدین شپون یادغونډه جوړه شوه ........................................................ ۲۵۷
شاه محمود حصین وفات شو ............................................................................. ۲۵۸
د چین نړیوال تلویزیون د پښتو خپرونو پرانیسته وشوه ............................................ ۲۵۹
په پکتیا کې "جاسوس" ډرامه ننداريې ته وړاندې شوه.............................................. ۲۵۹
پوهاند سیال کاکړ ته د سید جمال الدین افغان دولتي نښان ورکړل شو ........................ ۲۶۰
"ادب" مجله بیا چاپېږي................................................................................... ۲۶۱
د "اوښکې او هیلې" شعري ټولگې مخکتنه وشوه..................................................... ۲۶۱
تازه چاپ شوي پښتو آثار................................................................................ ۲۶۲

**د ۱۳۹۶هـ. ش کال د لړم (عقرب) میاشت**

د "جرس" مجلې دوهم نشراتي پړاو پیل شو.......................................................... ۲۶۳
د "وستل" مجله له چاپه راووتله........................................................................ ۲۶۳
"د پښتونخوا د شعر هارو بهار" بیا چاپېږي ........................................................ ۲۶۳
د خیرالبیان بشپړ متن چاپېږي ........................................................................ ۲۶۴
د خوشحال شاعري انگریزي ته ژباړل کېږي .......................................................... ۲۶۴
په سوېلي پښتونخوا کې مېرمن ادبي بهیر جوړ شو ................................................ ۲۶۵
مشرانو جرگې د استاد ازمون هڅې وستایلې........................................................ ۲۶۵
هاله؛ د ژورنالیزم او ژباړې ځلانده ستوری ..........................................................۲۶۶
د "حدیقة الحقیقة" شرحې مخکتنه وشوه ............................................................ ۲۶۷
د ملنگ جان د شپېتم تلین یادغونډه جوړه شوه.................................................... ۲۶۸

د پښتو اتڼي سندرغاړی شرفیار منګل ومړ ...........................................۲۶۹
څېړنپوه نصرالله ناصر د علومو اکاډمي د بشري علومو مرستیال شو ...........................۲۶۹
د هنري او فرهنګي سیالیو ګټونکو ته جایزې ورکړی شوې ........................................ ۲۷۰
د احمد علي کهزاد په اړه علمي – څېړنیز سیمینار جوړ شو ........................................ ۲۷۱
پښتو نوي چاپ شوي آثار ............................................................................ ۲۷۳

**د ۱۳۹٦هـ. ش کال د لیندۍ (قوس) میاشت**

په مصر کې د افغانستان سفارت کابو سل کتابونه چاپ کړي ......................................... ۲۷۴
شاعر او لیکوال عبدالرؤف قتیل خوږیانی پور پرې کړ.............................................. ۲۷۴
د نبتر ادبي ګلبڼ مشاعره جوړه شوه........................................................................ ۲۷۵
د افغانستان – هند ګډه فرهنګي اونۍ ترسره شوه.......................................................... ۲۷۵
شاعر او لیکوال ریاض تسنیم په حق ورسېد ................................................................ ۲۷۷
"د افغان کلمې د ریښې موندل او په افغانستان کې د هغې په کار وړل" ........................ ۲۷۹
پنځه مستند فلمونه ننداري ته وړاندې شول ................................................................. ۲۷۹
د هنر ورځ په هنري جشنوارې سره ونمانځل شوه ........................................................ ۲۸۰
شاعر او لیکوال عبدالواحد قلندر مړ شو...................................................................... ۲۸۰
شاعر فرید باراني له دې نړۍ وکوچېد ....................................................................... ۲۸۱
په لغمان کې د «خوشال بابا فکري بهیر» پرانیستل شو..................................................... ۲۸۱
د اسلام اباد په پوهنتون کې افغان محصلینو ادبي دستوره جوړه کړه.................................. ۲۸۲
د هنر او فرهنګ اجرایي کمېټې کار پیل کړ ................................................................ ۲۸۲
په بلخ کې پښتو ژبې ته د آثارو د ژباړې لړۍ پیل شوه .................................................. ۲۸۳
تازه خپاره شوي کتابونه ............................................................................................ ۲۸۴

**د ۱۳۹٦هـ. ش کال د مرغومي (جدي) میاشت**

په هېواد کې د پښتو ژبې او ادبیاتو لومړنۍ د دوکتورا دفاع ترسره شوه ......................... ۲۸۵
د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو لومړني ډاکټر ویاړ غونډه.............................................۲۸۶
د بدخشان پوهنتون لپاره پښتو کتابتون جوړ شو.........................................................۲۸۶
په زابل کې د یووالي لپاره مشاعره جوړه شوه ...........................................................۲۸۶
روسی پښتو پوه مړ شو ........................................................................................ ۲۸۷
د صدیق پسرلي د څلورم تلین یادغونډې جوړ شوې ...................................................... ۲۸۹
د شاعر او لیکوال فرید باراني یادغونده.................................................................... ۲۸۹
په لومړي ځل مسلکي ژباړونکي فارغ شول ................................................................. ۲۹۰
د خدایي خدمتګار فخر افغان پاچا خان دېرشم تلین ....................................................... ۲۹۰
پښتو نوي چاپ شوي آثار ....................................................................................... ۲۹۱

## د ۱۳۹٦هـ. ش کال د سلواغې (دلوې) میاشت


د ازادۍ راډیویي مجله ........................................................................ ۲۹۲
د شپې په چوپتیا کې غزل بڼ ................................................................... ۲۹۲
د شاعر او لیکوال زین العابدین پردېس د مړینې اوه دېرشم تلین ......................... ۲۹۳
استرالیا کې د شعر او هنر غونډه او د مولانا د مثنوي د ژباړې مخکتنه وشوه ................. ۲۹۴
د ډاکټر سلمی شاهین په ویاړ سیمینار جوړ شو ................................................ ۲۹۵
له اردو ژبې څخه دري ته د اقبال د کلیاتو د ژباړې مخکتنه وشوه .............................. ۲۹۵
د سارک جایزه لیکوال او شاعر نجیب منلي ته ورکړل شوه ...................................... ۲۹٦
د ماشوم د ادبیاتو د ملي ټولنې د اجرائیه شورا رئیس وټاکل شو................................ ۲۹۷
د "نرگس گل" کلنۍ مشاعره جوړه شوه ........................................................ ۲۹۸
په پکتیا کې د نښتر گل مشاعره جوړه شوه.................................................... ۲۹۸
"د ویاړ څلي" چاپ شو ......................................................................... ۲۹۹


## د ۱۳۹٦هـ. ش کال د کب (حوت) میاشت


د بایزید روښان د خیرالبیان بشپړ متن چاپ شو............................................... ۳۰۰
نامتو لیکوال او ادبپوه بختانی خدمتگار وفات شو ............................................ ۳۰۰
د استاد بختاني پر مړینې د ولسمشر اشرف غني د خواخوږۍ پیغام ........................... ۳۰۱
پوهاند یون په پښتو ادبیاتو کې د دوکتورا له ډیزرټېشن دفاع وکړه ........................... ۳۰۲
استاد ښکلي په پښتو ادبیاتو کې د دوکتورا له ډیزرټېشن دفاع وکړه ......................... ۳۰۲
د پوهاند جاوید د زوکړې د ۹۰یمې کالیزې نمانځغونډه ....................................... ۳۰۳
کابل کې د "کېږدۍ" عنعنوي مشاعره ترسره شوه ............................................. ۳۰۴
د "دیوید جونز" تاریخي ناول او د "اشر" لنډو کیسو ټولگې مخکتنه وشوه...................... ۳۰۴
شړشم گل مشاعره جوړه شوه ................................................................. ۳۰۵
د نومیالي لیکوال سرمحقق دوست شینواري پنځه ویشتم تلین................................ ۳۰٦
د پوهنوال ازمون د دوکتورا په ویاړ غونډه جوړه شوه ......................................... ۳۰۷
تازه چاپ شوي آثار ........................................................................... ۳۰۸


## ۱۳۹۷ هـ. ش (حمل - حوت)

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د وري (حمل) میاشت


څېړنپوه غلام فاروق مهرزاد وفات شو........................................................ ۳۱۰
"سمسور لغمان" دودیزه پسرلنۍ مشاعره ترسره شوه ......................................... ۳۱۰
د استاد اجمل ښکلي د دوکتورا اخیستنې ویاړغونډه جوړه شوه................................ ۳۱۱
د نارنج گل کلنۍ دودیزه مشاعره ترسره شوه ................................................ ۳۱۱
د استاد بختاني یاد غونډه جوړه شوه.......................................................... ۳۱۲

افغان کلتوري ټولنې پسرلنۍ مشاعره وکړه ............................................................. ۳۱۳
"په پښتو ادب کې د ډرامې تاریخي بهیر څېړنه" ..................................................... ۳۱۳
د انارګل دوديزه مشاعره ونمانځل شوه ............................................................... ۳۱۴
«ژبه او ژباړه» علمي سیمینار ترسره شو ............................................................. ۳۱۴
استاد جاج پښتونزوی وفات شو ....................................................................... ۳۱۵
په آنلاین ډول د پکتیا او د لوګر د ځوانانو مشاعره ترسره شوه ................................. ۳۱۵
په زابل کې د بادام ګل دودیزه مشاعره ترسره شوه .............................................۳۱۶
تخار کې په لومړي ځل د پښتنو شاعرانو تذکره چاپ شوه ........................................ ۳۱۷
ریدي ګل مشاعره ترسره شوه ......................................................................... ۳۱۷
"ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې" سیمینار جوړ شو ......................................... ۳۱۸
چنار کلنۍ دودیزه مشاعره جوړه شوه ................................................................ ۳۱۸
پوهاند رازقي نړیوال وستایل شو........................................................................ ۳۱۹
د هلمند سیند دودیزه مشاعره جوړه شوه ............................................................ ۳۲۰
پښتو تازه چاپ شوي آثار................................................................................ ۳۲۰

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د غويي (ثور) میاشت

د تصوف او ادبیاتو په اړه د افغان او ایراني پوهانو ګډ علمي- فرهنګي سیمینار ترسره شو....... ۳۲۱
د ۱۳۹۷ کال د "زري کرکې" د جایزو ګټونکي اعلان شول ...................................... ۳۲۲
په کندوز کې د رحمان بابا ۲۶۹م تلین ............................................................. ۳۲۲
د اسحاق ننګیال او رزاق فاني ګډه یادغونډه جوړه شوه ........................................ ۳۲۳
د شمال دودیزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه ............................................................ ۳۲۵
د «ارزګان غږ» کلنۍ مشاعره جوړه شوه ........................................................... ۳۲۵
پروفیسور فرمان الدین بخشالي وفات شو .........................................................۳۲۶
په غزني کې د الو ګل ادبي جشنواره جوړه شوه ...................................................۳۲۶
د سوله مل د درېیو کتابونو مخکتنه وشوه ........................................................... ۳۲۷
"د اندو اروپایي ژبو نَسبي څېړنه" پروژه دفاع شوه ................................................ ۳۲۸
د رحمان بابا دودیزه پسرلنۍ مشاعره ترسره شوه ................................................. ۳۲۹
"د کونړ سیند" کلنۍ مشاعره وشوه ................................................................... ۳۲۹
د منې ګل اوولسمه دودیزه مشاعره ترسره شوه...................................................... ۳۳۰
تازه چاپ شوي پښتو آثار.................................................................................. ۳۳۱

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د جوزا (غبرګولي) میاشت

"د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه" ................................ ۳۳۲
د پښتو ورځ ونمانځل شوه.................................................................................. ۳۳۲

"د پښه یانو د ځینو ولسي ادبیاتو تحلیلي څېړنه" ............ ۳۳۳
"ادبکده" خپله شپږمه غونډه جوړه کړه ............ ۳۳۳
پروفیسر داور خان داود په حق ورسېد ............ ۳۳۳
شاعر عبدالحی فاضل وفات شو ............ ۳۳۴

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د چنګاښ (سرطان) میاشت

په لوګر کې د "امن" مشاعره جوړه شوه ............ ۳۳۵
د فرید الله نوري د فرهنګي کړنو لومړۍ لسیزه ونمانځل شوه ............ ۳۳۵
د پښتو ژباړې د سمون په اړه غونډه وشوه ............ ۳۳۶
په پښتونخوا کې د پښتو لهجو په اړه ورکشاپ جوړ شو ............ ۳۳۷
"په منظوم ادب کې توارد" ............ ۳۳۷
«د پښتو او اسیتي ژبو د فونولوژیکي اړیکو څېړنه» او «د پښتني قبایلي...» پروژې دفاع شوې .. ۳۳۸
"وټه پوري یا دېګاني ژبه" کنفرانس ترسره شو ............ ۳۳۸
د شاعر عبدالحی فاضل په ویر غونډه جوړه شوه ............ ۳۳۹
څېړنوال عبدالظاهر شکېب د دوکتورا ډیزرټېشن دفاع کړ ............ ۳۳۹
"بدخشان د فرهنګ او تاریخ په بهیر کې" سیمینار ترسره شو ............ ۳۴۰
د پښتو نوي چاپ شوي آثار ............ ۳۴۲

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د زمري (اسد) میاشت

"خوشحال خټک او تاریخ لیکنه" ............ ۳۴۳
د محمد آصف صمیم ویاړغونډه جوړه شوه ............ ۳۴۳
د ماشوم او نوي ځوان د ناول لومړنۍ ادبي جشنواره ............ ۳۴۴
د پوهاند خویشکي په ویاړ غونډه جوړه شوه ............ ۳۴۵
باړه ګلۍ کې «د پښتو ژبې پرمختګ لارې چارې» نړیوال کنفرانس جوړ شو ............ ۳۴۵
په هرات کې د "ګړدود پوهنه" اثر مخکتنه وشوه ............ ۳۴۷
په قاهرې کې د سید جمال الدین افغان مجسمه کېښودل شوه ............ ۳۴۸
د پوهاند قویم په ویاړ غونډه جوړه شوه ............ ۳۴۸
پښتو تازه چاپ شوي آثار ............ ۳۴۹

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د وږي (سنبلې) میاشت

د مولانا بلخي د زوکړې ۸۳۵مه کالیزه (علمي – څېړنیز سیمینار) ............ ۳۵۰
په پکتیکا کې د سلیمان غره مشاعره جوړه شوه ............ ۳۵۱
په بلجیم کې د خپلواکۍ د ورځې په ویاړ مشاعره جوړه شوه ............ ۳۵۲
په اروپا کې د مېرمن کلتوري ټولنې بهیر د جوړېدو مقدماتي غونډه ............ ۳۵۳
د استاد شپون د لومړي تلین په مناسبت غونډه وشوه ............ ۳۵۳

پښتو لنډۍ او فیمینیزم ........................................................................ ۳۵۴
د شپون یاد........................................................................................ ۳۵۵
"په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر پرمختیایي څېړنه" .................۳۵۶
د خوشحال خان خټک د دیوان د خپل لاس لیکلې نسخه چاپ شوه ........................... ۳۵۷
د هند په جواهر لال نهرو پوهنتون کې د پښتو ماستري پیل شوه .......................... ۳۵۸
د علومو اکاډمۍ له خوا د ګواري ژبې رسمي معیاري الفباء جوړه شوه ....................... ۳۵۹
په پکتیا کې د نښتر دودیزه مشاعره ترسره شوه ............................................. ۳۵۹
"د کونډې زوی سریال ته لنډه تحلیلي کتنه" ..............................................۳۶۰
په هند کې د سارک کلتوري فسټیوال.................................................................۳۶۰
د داستاني ادبیاتو د لیکوال احمدي په ویاړ غونډه جوړه شوه ...............................۳۶۱
څېړنوال دوکتور شکیب د علومو اکاډمي سرپرست رئیس وټاکل شو...............................۳۶۲
د پښتو ژبې نامتو شاعر اقبال جان په حق ورسېد ..............................................۳۶۳
د محمد اکبر کرګر داستاني کلیات چاپ شو ...................................................۳۶۴

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د لړم (عقرب) میاشت

"د محمد صدیق پسرلي ژوند او د آثارو تحلیلي څېړنه"............................................۳۶۵
د هنر او فرهنګ د ودې اجرایوي کمېټې ناسته وکړه..............................................۳۶۵
دوه لیکوال او شاعران (ګلستانی او عسکر) وستایل شول .......................................۳۶۶
د پښتونخوا ۱۳ حقدار لیکوال او فرهنګیان وستایل شول .......................................۳۶۶
افغان فرهنګیان د ستر خوشحال په کور کې ......................................................۳۶۸
"د افغانستان انځور د علامه محمد اقبال لاهوري په افکارو کې" ..............................۳۶۹
د «باد او بڼکه» او «نه هېرېږي، نه به هېر شي» آثارو مخکتنه وشوه......................... ۳۷۰
"په پښتني فولکلور کې چیستانونه او د هغو د ټولنیز او ښوونیز ارزښت تحلیلي څېړنه" ......... ۳۷۱
"پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتو ټکنالوجۍ اغېزې"............................................. ۳۷۱
"په پښتو منظوم ولسي ادب کې چاربیته او د هغې د شکل او مضمون تحلیلي څېړنه".......... ۳۷۱
شاعر او ژباړن مواج په حق ورسېد................................................................. ۳۷۲
په ننګرهار پوهنتون کې د چینایي ژبې زده کړې کورس پرانیستل شو ......................... ۳۷۲

## د ۱۳۹۷هـ. ش کال د لیندۍ (قوس) میاشت

د سراج الاخبار د لومړي کال پښتو شوی متن چاپ شو ......................................... ۳۷۴
"ویاړلي" تذکره چاپ شوه ........................................................................... ۳۷۵
"افغان لیکوال" په رحمان مېنه کې ځانګه پرانیستله............................................ ۳۷۵
څېړندوی منګل او پوهنیار رودوال د دوکتورا یزرتېشنونه دفاع کړل ............................۳۷۶
د مېرمن شاه ګل د شعري ټولګې مخکتنه وشوه..................................................۳۷۶

شاعر او لیکوال عمردراز مروت وفات شو........................................................ ۳۷۷
"د ادبي میراثونو ساتنه" ................................................................................ ۳۷۸
د پوهاند بهاءالدین مجروح د زوکړې ۹۰یمه کالیزه ونمانځل شوه............................ ۳۷۹
د رڼا کلنۍ مشاعره ترسره شوه ........................................................................ ۳۸۰
د عبدالاحد منګل د دوکتورا په ویاړ غونډه جوړه شوه.......................................... ۳۸۲
"د لنډې کیسې د کرکټر څرنګوالی" ................................................................ ۳۸۳
«د "ماته سپېږ" ناول ته لنډه تحلیلي کتنه» ...................................................... ۳۸۳
"خان اکاډمي" په پښتو ژبه تدریس پیل کړی دی.................................................. ۳۸۴

**د ۱۳۹۷هـ. ش کال د مرغومي (جدي) میاشت**

د پښتو "ډاکټرانو" ویاړ غونډه جوړه شوه ........................................................ ۳۸۵
"د سولې په زمزمو کې" مشاعره ترسره شوه ....................................................... ۳۸۶
" د دري کلمې لغوي څېړنه".............................................................................. ۳۸۷
د "ادبي شننې" ادبي ژورنال مخکتنه .................................................................. ۳۸۷
د سراج الاخبار د پښتو ژباړې په ویاړ غونډه ....................................................... ۳۸۸
په ننګرهار پوهنتون کې د سولې مشاعره ترسره شوه ............................................ ۳۸۹
د پوهاند حبیب الله تږي ژوند او آثارو ته لنډه کتنه............................................. ۳۹۰
شاعر یونس قیاسي وفات شو ............................................................................ ۳۹۰
د ماشوم ادبیاتو بنسټ لومړنۍ مشورتي غونډه وکړه............................................ ۳۹۱
پروفیسر ډاکټر اقبال نسیم خټک خپل روح حق ته وسپاره ................................... ۳۹۳
"د کاکړ تاریخ بنسټ" پرانیستل شو.................................................................. ۳۹۴
په پښتو ژبه لومړۍ ساینسي مجله له چاپه راووتله.............................................. ۳۹۶
د "اخ چې لنډې فاصلې وای!" اثر مخکتنه ........................................................ ۳۹۶
د استاد پسرلي د پنځم تلین په مناسبت سیمینار جوړ شو..................................... ۳۹۷
"مېرمن حمیده او د هغې د اشعارو تحلیلي څېړنه"............................................... ۳۹۸
په استرالیا کې د (اخ! چې لنډې فاصلې وای) اثر مخکتنه وشوه ........................... ۳۹۹
د قتیل خوږیاڼي د لومړي تلین یادغونډه جوړه شوه ............................................. ۳۹۹
علامه رشاد خپروندویه ټولنې دوه مهم کتابونه خپاره کړل .................................... ۴۰۰

**د ۱۳۹۷هـ. ش کال د سلواغې (دلوې) میاشت**

"وږمه" مجله تر څلوېښت کلن ځنډ وروسته بیا چاپ شوه...................................... ۴۰۱
ولسمشر غني: حکومت فرهنګي ودې ته ځانګړې پاملرنه لري او پانګونه پرې کوي ............ ۴۰۱
د "ویاړلي" لس ټوکیز اثر مخکتنه وشوه ............................................................ ۴۰۳
د نرګس ګل مشاعره جوړه شوه ........................................................................ ۴۰۴

د ولسي شاعر گلکاریوال ژوند او اشعارو ته لنډه تحلیلي کتنه........................................ ۴۰۵
"په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه" ........................................................... ۴۰۶
د "مفکر او نوښتگر الفت" په نوم ډیزرټېشن دفاع شو................................................ ۴۰۷
"د اتڼ، نکلونو او تاریخي نارو توپیرونه او ورته والی" ............................................. ۴۰۸
«د مولوي شېرگل ژوند، آثار او د آثارو تحلیل» ...................................................... ۴۰۸
د سید بهاء الدین مجروح د فکر غځونې ته باید کار وشي ............................................ ۴۰۹
د بلخ د پښتنو لیکوالو او شاعرانو تذکرې په دوو ټوکونو کې چاپ شوې ............................ ۴۱۰
پوهاند زیار د افغانستان په علومو اکاډمي کې کار پیل کړ ........................................... ۴۱۱
"د مړه خره لیکونه" پښتو ته وژباړل شو ............................................................ ۴۱۳

**د ۱۳۹۷هـ. ش کال د کب (حوت) میاشت**

د ادبي آریانا دایرة المعارف د لیکلو چارې پیل شوې .................................................. ۴۱۴
د خوشحال بابا د ۳۳۰م تلین په مناسبت د ده د خپل لاس لیکلي دیوان مخکتنه ............... ۴۱۴
د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په مناسبت د افغان کلتوري ټولنو گډې جرگې او ژبژغورنې ملي غورځنگ پرېکړه لیک............................................................................... ۴۱۶
د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د علمي همکاریو تفاهملیک لاسلیک شو.......................... ۴۱۸
په کندوز کې د مورنۍ ژبې ورځ ونمانځل شوه ...................................................... ۴۱۹
په پکتیا کې د منظور په ویاړ د غزل ماښام جوړ شو ................................................ ۴۲۰
دیدن ادبي بهیر غونډې پیل کړې................................................................... ۴۲۰
د "خدایي خدمتگار یو ستراتېژیک غوراوی" اثر مخکتنه ............................................ ۴۲۱
پېښور کې د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په پار غونډه او مشاعره ................................ ۴۲۳
په مملې باغ کې په لومړي ځل د نرگس گل مشاعره................................................ ۴۲۴
د امنیتي ځواکونو د ملي ورځې په ویاړ مشاعره وشوه............................................... ۴۲۴
د زین العابدین پردېس د ۳۸م تلین غونډه جوړه شوه ............................................... ۴۲۵
زرین انځور د ولسمشر فرهنگي سلاکار وټاکل شو.................................................. ۴۲۵
"معیاري ژبه او رسنۍ" ................................................................................. ۴۲۶
شاعر زرین پرېشان ومړ ............................................................................... ۴۲۶

# یادونه

ادبي او فرهنګي پېښې هم د ژوند د اجتماعي او سياسي پېښو ترڅنګ، د ژوند يوه مهمه برخه ده، ځکه ادب او فرهنګ د ژوند ښکلاييزه برخه ده او ذوقونه خړوبوي، له همدې امله ډېر مينه وال او علاقمندان لري او کله چې دا پېښې د رپوټ په بڼه قلمبندي شي او تاريخي څېره يې خوندي شي، نو بيا د ادب او فرهنګ د تاريخ په ليکلو کې ښه ګټه ترې اخيستل کېدای شي او د يوه هېواد د ملي هويت د ادب او فرهنګ تذکره ترې جوړېږي.

ستاسو په لاس کې کتاب د هغو ادبي او فرهنګي خبري پېښو بهير دی چې د ۱۳۹۲ کال له لیندۍ نه د ۱۳۹۷ کال د کب تر پايه پېښې شوې او تر کومه ځايه چې ليکوال پرې خبر شوی او لاس يې ور رسېدلی، هغه يې قلمبند کړي او د "زېري" د جريدې له لارې يې لوستونکي ته د زېري په توګه وړاندې کړې دي.

اوس به ډېرو ته دا پېښې عادي ښکاري، خو کله چې د ادبي او فرهنګي پېښو د تاريخ ليکلو اړتيا پېښېږي، نو بيا هغه وخت همدا واړه – واړه معلومات د مينه والو لويه اړتيا ترسره کوي او د تاريخ په بهير کې لوی – لوی څپرکي ترې جوړېږي.

زه د ښاغلي څېړنوال محمد آصف احمدزي دا لوی زيار ستايم او د معاصر ادب او فرهنګ په بهير کې يې يو بنيادي خدمت ګڼم! مبارکي ورکوم او په قلم يې برکت! دعا ورته کوم!

په درنښت

څېړنوال حبيب الله رفيع

د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلاکار

۱۳۹۸/۱۱/۲۷

# د فرهنګي – ادبي کرونولوژي اړتیا

د کرونولوژي د کلمې په اړه قاموسونو کښلي چې دا له دوو کلمو جوړه ده چې لومړی کرونو (Chrono) د وخت او زمان مختاړی (prefix) دی او لوژي (logy) د پوهې په معنا ده[۱]. دغه راز ویل شوي چې Chronology د یوناني کلمې له χρόνος خرونوس/وخت او لوګوس/پوهې څخه اخیستل شوې کلمه ده[۲]. البته په پښتو کې د دې کلمې معادل «پېښلیک» دی.

د زمانبندۍ په بڼه د اطلاعاتو ډلبندي کول یا د زماني د حوادثو د پېښېدو د ترتیب په اساس (Cahronolical) د اطلاعاتو طبقه بندي کول د کرونولوژي علم دی. هغه کتابونه، منابع او آثار چې په دې شېوې لیکل کېږي، د علاقمندانو او څېړونکو لپاره ډېرې مناسبې سرچینې دي، ځکه هغوی کولای شي په دقت او سرعت سره د یوه هېواد د سیاست، اقتصاد، فرهنګ، هنر او ټولنې له تاریخ سره بلد شي. دغه ډول منابع د تیت و پرک موضوعاتو د زېرمه کولو لپاره مهم آرشیفونه دي. ځینې په دې باور دي چې پېښلیکونه کاروونکو ته دا امکان برابروي چې په کم وخت کې تېرو وختونو ته زماني سفر ولري. په تاریخ کې د پېښو له دقیقې زمانې څخه بشپړه خبرتیا ډېر اهمیت لري، ځکه یو محقق په زیاترو مواردو کې پر موضوع پوهېدو سره پېښې شرحه او تفسیرولی شي، د علت او معلول ترمنځ رابطه کشفولی او هغو پوښتنو ته چې په ذهن کې یې لري، مناسب ځواب پیدا کولی شي[۳].

کرونولوژي په ساده الفاظو کې د نېټو په ترتیب د پېښو د لیکلو پوهې ته ویل کېږي.

د کرونولوژي په باب تر پورته لنډو توضیحاتو وروسته، اوس راګرځم د دې پېښلیک په اړه وضاحت ته.

---

[1] https://www.collinsdictionary.com/dictionary/english/chrono

[2] https://ar.wikipedia.org/wiki/

[۳]حسن فراهاني، https://www.aftabir.com/articles/view/science_education/education/c3c1254927463_krvnvlvzhy_p1.php، د خپرېدو نېټه: د میزان ۱۵مه ۱۳۸۸، د مراجعې نېټه: د سرطان ۳۱مه ۱۳۹۸هـ ش.

دا چې کرونولوژي تر ډېره تاريخي مسايلو ته راجع ده، اما اوس چې علوم پراخه شوي او هر علم بيا ځانګړې څانګې لري، نو کېدای شي پر تاريخي مسايلو سربېره د سياسي، اقتصادي، ټولنيزو، کلتوري او ادبي پېښو کرونولوژي هم ترتيب او دغه ډول پېښې د زمان په نظر کې نيولو سره قلمبندي او خوندي شي.

دا چې زما مسلک ادبيات دي، نو ځکه ما ته د فرهنګي- ادبي پېښليک د ليکلو ضرورت ډېر زيات محسوس شو، که مبالغه ونه شي، موږ هره ورځ د يوې کلتوري او ادبي واقعې شاهدان يو چې د هغو را يوځای کول، اوسني او راتلونکي نسل ته يې لېږد نه يوازې بې ګټې نه دی، بلکې يوه مهمه اړتيا ده.

په دې سره به د همدې مودې د فرهنګ او ادب په اړه عمومي جاج اخيستل شوی وي، د فرهنګي چاپېريال حالت به معلوم شوی وي، د ادب تاريخ لپاره به مواد چمتو شوي وي، ادبي تذکرو ته به دقيق او کره معلومات زېرمه شوي وي او ادبي نقد ته به زمينه مساعده شوې وي چې په دغې زماني مقطع کې د فرهنګ او ادبياتو څرنګوالی او صورت حال، په دغه ډول دی چې بيا به وربانديې قضاوت وشي.

هغه مهال (د ۱۳۹۲هـ ش کال د عقرب ۲۷مه) چې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د خپرنيز ارګان «زېري» جريدې د مسئول مدير په توګه وټاکل شوم، نو په دې لټه کې شوم چې د دې تاريخي خپرونې چې په ۱۳۱٦هـ ش کې تأسيس شوې، په بڼې او منځپانګه کې تر خپلې وسې بدلون راولم، هماغه و چې د نورو چارو ترڅنګ مې په ذهن کې د روانو ورځنيو فرهنګي- ادبي چارو خپرولو ته پام شو چې په هره ګڼه کې د هماغه وخت او زمانې دغه ډول پېښې د يوه ځانګړي کالم له لارې خپرې کړم. پيل مو د ۱۳۹۲هـ ش د قوس له مياشتې وکړ او تر دې وروسته په هره شماره کې دغه فرهنګي- ادبي خبرونه خپرېدل چې د لوستونکو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول. دغې لړۍ تراوسه پورې (دلو، ۱۳۹۸هـ ش) چې زه د دې خپرونې مسئوليت اوس نه لرم، دوام کړی او که ژوند او انرژي راسره ملتيا وکړه، دوام به ورکوم.

يو وخت څو تنو ښاغلو استادانو راته ووېل چې دغه په هرې ګڼې کې خپرېدونکې فرهنګي- ادبي پېښې راټولې او د يوه ځانګړي اثر په توګه يې په کرونولوژيکه بڼه چاپ کړم. همدغه پيشنهاد او ټولنې ته د دې علمي، فرهنګي او ادبي فعاليتونو د تقديمولو اړتيا ته په کتلو سره مې دغه مواد را جمع کړل او دا دی اوس يې ستاسو مخې ته ږدم.

په دې کرونولوژي کې د پورته يادې شوې نېټې (قوس، ۱۳۹۲) څخه راپدېخوا د ۱۳۹۷هـ ش کال تر پايه پورې مواد راغونډ شوي دي، البته د دې پېښليک پنځه کاله يې د ۱۳۹۷هـ ش

کال په قوس میاشت کې پوره کېدل، خو د دې لپاره چې دا لړۍ د کلونو په اساس ترتیب شوې وي، نو لازمه مې وبلله چې د دې کال (۱۳۹۷هـ ش) تر پایه دغه پېښې په کې شاملې کړم؛ مطلب دا چې، دغه څه باندې پنځه کلن پېښلیک دی چې د لومړۍ سلسلې په توګه یې تاسو لوستونکي یاست.

په دې پېښلیک کې هم علمي- تحقیقي سیمینارونه او کنفرانسونه، هم مشاعرې، ادبي محفلونه او فستیوالونه، هم نمانځغونډې او یادغونډې، هم د فرهنګیانو، لیکوالو او شاعرانو کارنامې او هم یې د وفات نېټې، د تازه چاپ شویو آثارو او هم یې د چاپېدو په مناسبت غونډې او د مخکتنو بهیر، د نویو راڅلېدونکو پښتو خپرونو زېږی، فرهنګي جوایز، د ادبي بهیرونو او ټولنو د پیلېدو او فعالیتونو، د علمي- تحقیقي پروژو او د دوکتورا له ډیزرټېشنونو څخه د دفاع ګانو ګزارشونه، د مستندو فلمونو نندارې ته وړاندې کېدل، علمي سفرونه، په سیمه ییزه او نړیواله کچه پښتو ته ترسره شوي خدمتونه او بالاخره د فرهنګ او ادب مسیر او لوری خوندي شوی دی.

له دې ټولو څخه زموږ د فرهنګ، ادب او خاصتاً د پښتو ژبې او ادب د بهیر جاج اخیستل کېږي او ترې معلومېږي چې که خدای کول، همدغه بهیر همداسې تاند روان و اوسي، زموږ ژبه او ادب به یو مهال له سیالانو سره سیالي وکولای شي. دغې برخې ته زموږ پوهان، څېړونکي، فرهنګیال، ادیبان او شاعران متوجه دي او غواړي چې د فرهنګ او ادب ځولۍ لا پسې ډکه کړي.

البته د هرې پېښې انځور هم چې ترلاسه کړی مې دی، ورسره راوړل شوی دی. د دې اثر د چاپ پرمهال را سره هیله دا وه چې که د عکسونو په خاطر دغه اثر رنګه چاپ شي، نو به یې ګټه لا زیاته او ښې مستندې شي، ځکه کله کله یو روښانه تصویر تر لیکلو او ویناوو ډېر څه لیدونکي ته ورکولای شي، خو د امکاناتو نه موجودیت له امله مې دغه هیله ترسره نه شوه.

بله دا چې، د دغه پېښلیک د پېښو په ترتیبولو کې هیڅ ډول شخصي تمایلات او ملاحظات په پام کې نه دي نیول شوي، پېښې یواځې د نېټو پر اساس ترتیب شوي چې د میاشتې په پیل کې چې کوم فعالیت ترسره شوی، هغه په لومړیو کې او رپسې نور فعالیتونه په تاریخ وار ډول راوړل شوي دي.

دا چې ما څنګه دغو معلوماتو او پېښو ته لاسرسی موندلی دی؟ په ځواب کې یې ویلای شم چې:

لومړنی منبع په خپله زما مشاهدات دي چې یوې علمي، تحقیقي او ادبي ناسته کې مې

ګډون کړی، نو په اړه مې يې قلم خوځولی دی؛ دوهم دا چې، زه له دغسې يوه بهير څخه خبر شوی يم، خو په خپله مې په کې حضور نه دی لرلی، بيا مې د همدې جريان يو ګډونوال پوښتلی او هغه يې په اړه په خورا مهربانۍ معلومات راکړي دي؛ دريم دا چې، له مختلفو وېبپاڼو او خاصتاً فيسبوک پاڼو څخه مې دغه ډول مواد ترلاسه کړي دي؛ بله دا چې، زه زياتره په رسنيو کې د فرهنګي- ادبي خپرونو تعقيبوونکی يم، خاصتاً د ازادۍ راډيو د «راډيويي مجلې»، د بي بي سي تلويزيون «هنري شېبې» او.... چې له همدغو برنامو مې هم استفاده کړې ده.

په دې پېښليک کې د کلونو، مياشتو او بيا د ورځو د کرونولوژي په اساس تر ډېره په افغانستان کې دننه فرهنګي-ادبي مسايل شامل دي، اما کله کله چې د پښتونخوا، ګاونډيو هېوادونو، اروپايي هېوادونو او د نړۍ په کچه چې فرهنګ او ادب او خاصتاً پښتو ژبې او ادب ته کار شوی، هلته هم سر ورښکاره شوی او د دې کرونولوژي يوه برخه ګرځېدلې ده.

زه دلته خپل عجز او ناتواني ګرانو لوستونکو او د پوهې، فرهنګ او ادب لارويانو او مينه والو ته وړاندې کوم او هغه دا چې زه يو شخص يم، نورې علمي او کاري بوختياوې هم لرم، نو که له ما څخه د کومې علمي- څېړنيزې، فرهنګي او ادبي غونډې او ناستې او يا هم د کوم فرهنګپال او ادبپال په باب جوړ شوي محفل او د هغه قدردانۍ يا ستاينې يا کوم بل ډول فرهنګي- ادبي پېښې د تاريخ حافظې ته سپارل پاتې شوې وي، نو په خپلې بزرګوارۍ دې راته بخښنه کوي، ځکه دا يو ستر کار دی او موږ د ادب او فرهنګ بېلابېلې حوزې لرو، په مختلفو ځايونو کې فرهنګ، ادب او ژبې ته کار کېږي او د دې ټولو ثبتول د يوه دولتي يا نادولتي بنسټ کار دی، نو ما په يواځې ځان ښايي ځينو نورو پېښو ته لاسرسی نه وي موندلی.

بله د تأسف خبره دا ده چې کاشکې مې دغې موضوع ته لا له وړاندې پام شوی وای، ترڅو مې تردې مخکې کلونو او لسيزو پېښې ثبت کړې وای او يو وخت چې مې له خپل قدرمن استاد څېړنپوه زلمي هېوادمل سره د دې کرونولوژي د چاپ خبره مطرح کړه، نو د دې کار د ستاينې ترڅنګ يې را ته سپارښتنه وکړه چې که وکولای شم، تردې مخکې کلونو (۱۳۸۰- ۱۳۹۲هـ ش) فرهنګي- ادبي پېښې هم ثبت کړم، نو خورا يو ګټور او ستر کار به مې کړی وي؛ خو افسوس چې د استاد دغه سپارښتنه مې په عمل کې پلې نه شوای کړی.

دا چې دا کار، په دې برخه کې زما لومړنۍ تجربه ده، نو په لومړي سر کې مې د پېښو د سرچينو يادولو ته ډېر پام نه و، خو وروسته مې د هرې پېښې د منبع او مأخذ يادونه کړې، هغه مې مستندې را اخيستې، له دې امله د پوره باور وړ دي او په دې توګه مې د نورو دوستانو حق ادا کړی دی. البته چې که په لومړيو کې رانه پاتې وي، زما تقصير يې وبولئ.

بله دا چې، د دې پېښلیک ځینې واقعات چې ما را اخیستي، زیاتره یې یو شمېر نورو ښاغلو لیکلي، خپاره کړي یې دي او ما بیا را اخیستې ده، زه ځان د هغوی پوروړی بولم چې که هغوی هر یو په دې اړه لاس په کار شوی نه وای، نو زما کار به نیمګړی و.

په پای کې لازمه بولم چې له څېړنوال محمد نبي صلاحي څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې د دې کرونولوژي د لړۍ د دوام ساتلو لپاره یې تل هڅولی یم او د ۱۳۹٤هـ ش کال له اواخرو راپدېخوا چې د زېري جریدې مسئول مدیر دی، د دې پېښلیک په اړه یې لازمې مشورې راکړې او اړینې سپارښتنې یې راته کړې دي؛ دغه راز د څېړندوی رحیم الله حریفال کور دې هم ودان وي چې دغه اثر یې ایډیټ کړ.

نور مو سر نه خوږوم. هیله ده د ادبیاتو د یوه ادنی شاګرد په توګه مې فرهنګ او ادب او په ځانګړې توګه پښتو ژبې ته څه ناڅه خدمت کړی وي او که ستاسو دعا وي او زما صحت راته اجازه راکوله، نو یو وخت به مو د دې لړۍ پر نورو مجموعو هم سترګې خوږې شي. دا تاسې او دا هم د تېرو پنځو کلونو فرهنګي- ادبي حالات.

په فرهنګي مینه

څېړنوال محمد اصف احمدزی

د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل

د ۱۳۹۸هـ ش کال د زمري لومړۍ نېټه